د محمدی صاحبزاده پر دیوان

باندی یو

# ځغلند نظر

لیکوال

حبیب الله رفیع

٥٥٥

# ځغلند نظر

د محمدي صاحبزاده پر دیوان

لیکوال

حبیب الله رفیع

۶۳۵۳۳

د رسالې نوم : ځغلند نظر

لیکوال : حبیب الله رفیع

خپرونکی : امان کتاب

نمبر : نولسم

د خپرېدو کال : ۱۳۶۵ ش / ۱۹۸۶ ع

خطاط :- مولانا شیرشاه ترخوی

بیه : درې روپیه

# تړون

په پښتو ژبه کې

د

"ادبي تنقید"

د

"روڼ سبا"

په

نوم ۱

ح ـ رفیع

# هوالله

د محمدي صاحبزاده د دیوان رابرسېره کېدل او خپرېدل دپښتو په کلاسیک ادب کې یو قیمتي او ارځښتناک زیاتون دئ چې افتخار یې زما د محترم دوست او د پښتو د پیاوړي لیکوال او نامتو ادیب قلندر مومند صاحب په برخه دی.

دې کتاب ته زما تلوسه او د محترم قلندر صاحب لوربېنه د دې سبب شوه چې له لومړیو چاپي نسخو نه یې یوه نسخه ماته راورسېږي ما هم دیوان په تنده ولوست او ځان مې مکلف وګاڼه چې د دې لوی کار ستاینه وکړم. دا چې زما ګران دوست قلندر مومند صاحب د پښتو لوی نقاد هم دی. دې کار جرأت راوباښه چې زه د کتاب د ستاینې تر څنګ سالم نقد او لازم توضیحات هم له پامه ونه غورځوم.

د "هیواد" رجریدې مرستیال ګران عصمت الله پسرلی هم پرله پسې راته غوښتل چې دا لیکنه دوی ته وسپارم څو په هیواد کې خپره شي. ما په پاک زړه او پاک نیت دا لیکنه چې د علمي نقد په اصولو برابره کړې وه، هیواد ته حواله کړه خو نه پوهېږم چې د هیواد رچلوونکي زما محترم دوست سلطان محمد صابر صاحب په څه نیت د مقالې تر خپرېدو وړاندې قلندر صاحب ته خبر ورکړ چې ستا پر کتاب مقاله خپرېږي. دوی بې له دې چې مقاله ولولي د هیواد

خپرونکو ته وویل چې خپره نشي ! په دې توګه یوه مقاله چې مطبعې ته تللې وه خپره او نیمه نوره ناچاپه پاتې شوه .

ما چې کله له محترم قلندر صاحب سره ولیدل ده په ډېره سړه سینه وویل : څرنګه چې تراوسه کتاب لا په مطبعه کې دی هرکله چې ټول کتاب راووزي نو ټوله مقاله دې له سره خپره شي .

د پښتو ادب مینه والو چې یوه مقاله لوستې وه د پاتې برخې د خپرولو یې له ما او له "هیواد" نه غوښتنه کوله . په دې کې څو میاشتې واوښتې یو وخت خبر شوم چې محترم صابر صاحب پاتې مقاله هم خپروي خو ما وویل څو ټوله مقاله له سره چاپ نه شي زه یې له نیمګړي چاپ سره موافقه نه لرم ځکه د لومړۍ برخې په چاپ یې څو میاشتې تېرې شوې دي خو د صابر له خولې راته حکایت وشو چې د ټولې مقالې په خپرېدلو قلندر صاحب خپه کېږي !

زه پوه نه شوم قلندر صاحب چې په خپله نقاد دی څنګه د یوه سالم نقد په خپرېدلو خپه کېږي او هغه هم د خپل یوه ادبي دوست په نقد ؟

په هر حال په هیواد کې ټوله مقاله په هر منظور چې وه خپره نه شوه . خو له ما نه د مقالې هغو مینه والو چې لومړۍ برخه یې لوستې وه بار ، بار غوښتنه کوله چې دا مقاله په بشپړه توګه خپره کړم ، ځینې نورو اخبارونو هم راته وغوښتله خو ما یې په هغه مهال یې شکل خپرول مناسب ونه ګڼل .

اوس زما ګران ادبي دوست محترم شیرشاه نرخوی صاحب راته وویل چې زه به دا مقاله د یوې کوچنۍ رسالې په بڼه درته خطاطي کړم او ته یې

د "امان کتاب" له خوا خپره کړه، زما دا تجویز خوښ شو او دا دې محترم شیرشاه ترخوی صاحب ته یې د کتابت له پاره سپارم.

زه د خپلو درنو ادبي دوستانو محترم قلندر صاحب او محترم سلطان محمد صابر صاحب هم مشکوریم چې له دې مقالې نه یې د پوهندانې د کیسې په جوړولو او د خپرولو او نه خپرولو په اوږده کشاله کې د دې زمینه برابره کړه چې مقاله د رسالې بڼه پیدا کړي او د یوه ځانګړي اثر په توګه خپره شي.

زه عقیده لرم څو پښتو ته سالم نقد او کره کتنه رانشي ترهغې به زمونږ ادبي و راتې و یجاړې یوه هم حل نشي. خپلې خبرې لنډوم او نا سودرا ته لوستونکي د مقالې لوستلو ته رابولم!

په مینه

ح. رفیع

۶۵/۴/۲۰ (۸۶/۷/۱۰)

## د محمدي صاحبزاده

# دیوان

د پښتو دوتلي ادیب، نامتو لیکوال او پیاوړي شاعر ښاغلي صاحبزاده حبیب الرحمٰن قلندر مومند په زیار او ... هاند د پښتو دلرغوني او خوږ ژبي صاحب حال شاعر محمدي صاحبزاده د دیوان په خپرولو سره په پښتو ادب کښې یوه نوې اضافه او زیاتون وشو.

محمدي صاحبزاده هغه خواخوږي پښتون او ادب پال شاعرو چې د دوولسمې پیړۍ په اوږ دوکښې یې ژوند کړی او د دیارلسمې پیړۍ په دوهمه لسیزه کښې وفات شوی دی. د پښتو ادب د خوندي کولو له پاره یې خوشخطه، هرمند او باذوقه کاتبان مقرر کړي وُو او د پښتنو شاعرانو دیوانونه به یې پرې خطاطي کول. ده وکړای شول چې د پښتو په لسهاؤ دیوانونه او ادبي کتابونه خطاطي او خوندي کړي له هیرې او ورکې نه یې وساتي او موږ ته را ورسیږي.

د محمدي صاحبزاده له دې لوی خدمت سره سره د ده خپل دیوان د زمانو په تیارو کښې ؤ او له زیات لټون سره، سره څوک نه وو بریالي شوي چې د ارځښتناکه ادبي خزانه ومومي او د پښتو ادب مینانو ته یې وړاندې کړي.

دالوی تاریخي دیار، ذفلندر صاحب په برخه شواوپه دې شپو ورځو کښې یې د محمدي صاحبزاده دیوان په ښکلي خط او په زړه پورې صحافت خپور او د پښتو ادب علاقمندانو ته وړاندې کړ.

د محمدي صاحبزاده دیوان ۸ مخه سریزه ۱۰ مخه فهرست او د دیوان د متن ۳۴۳ مخونه لري د چاپ کال یې ۱۹۸۵ ع، د چاپ شمېر زر نسخې، کاتب یې انوار الحق داؤدزی، چاپوونکی او خورووونکی یې چاپځي، کوهاټ روډ- پېښور او بیه یې (۱۲۰) روپۍ ده. کاغذ یې سپین پښتی یې قطعه یې زرکوب، ګنډل یې جزء بندي شوی او په دې ډول د چاپ له پلوه هم د پښتو یو ممتاز کتاب دی.

د محمدي صاحبزاده شاعري پخه، خوږه او د خپل عصر نمایند ه شاعري ده چې د دې نسخې په وسیله د علاقمندانو لاسو ته رسیږي او په کتابتونونو (لائبرېریو) کښې ځای مومي.

موږ د لته د محمدي صاحبزاده د شاعرۍ څېړل نه غواړو، یوازې د دې دیوان سریزې، ترتیب او تکمیل او یک دود ته یو ځغلند نظر کوو او درانه علاقمندان یې لوستنې ته رابولو.

# لومړی

## د محمدي صاحبزاده د دیوان سریزه

د سریزې تر څېړنې وړاندې بایې ووایو چې ددې دیوان نوم د پښتو ژبې د ګرامري جوړښت سره سم "د محمدي صاحبزاده دیوان" لیکل شوی او د "دیوانِ بیاض" "دیوانِ علي خان" "دیوانِ هجري" "دیوانِ کاظم خان" او دا ډول نور اردو او فارسي ترکیب نومونو غلط دود یې مات کړی دی.

د دیوان سریزه لنډه خو تر ډېره حده مطلبي او له اضافي موادو نه پاکه ده اما په دې سریزه کښې ځینې نیمګړتیاوې، اهمې تېروتنې او حتی تېرایستنې هم شته چې دلته یې یادول لازم بولم:

۱- قلندر صاحب د دیوان په سریزه کښې لیکي:

" د علي خان یو شعر دی

سن د هجر غر وه، سر د کاڼي تر کمتر وه

ورځ وه دیار لسمه د ذالحجې په تحریر کښې

د دې شعر عام طور سره دا معنی کیږي چې سن د هجر د $\frac{غر}{۱۲۰۰}$ نه د کاڼي د سر یعنې ک (۲۰) هومره کم وه. د شارحینو او نقادانو په خیال دا د ۱۱۸۰ هـ د کومې یوې واقعې په باره کښې ویلې شوی

شعر دی حالانکه دا شعر هم د محمدی صاحبزاده د وفات کال څرګندوي
او د شعر مطلب دادی چې د غر (۱۲۰۰) لفظ د هجرد کال نه د کانړی د سر
یعنی ک (۲۰) هومره کم دی. په دې حساب د هجرت سن ۱۲۰۰+۲۰=۱۲۲۰ ھ
کیږي او د وفات ورځ ۱۳، ذی الحج"

(د سریزی و، زمخونه)

په دې بیان کښې له یوې خوا و شعر حل د ابجدي قیمتونو د
معمول په خلاف د ۱۱۸۰ ھ پرځای ۱۲۲۰ ھ را ایستل شوی، د سرعه
(مصرع) مطلب، بیخی واضح دی او وایي چې سن د هجر غر ؤ او د کانړی
سر تری کم ؤ. کوم تاویل چې قلندر صاحب کوی په هغه حالت کښې
(مسرعه) او سنی ګرامري جوړښت په هیڅ صورت دا مطلب نشي ا دا
کولای. و تأمل. تر دې چې را تیر شو د علیخان په شعر کښې هیڅ داسې
قرینه نشته چې دا شعر دې د محمدی صاحبزاده په وفات ویل شوی
وي، ښکاري چې د محترم قلندر صاحب قرینه فقط محمدي صاحبزاده
ته د علیخان عقیدت درلودل او له ۱۲۲۰ ھ ق کال سره د محمدي صاحبزاده
صاحب د رحلت کال سمیدل دي خو دا بعیده قرینه بل هیڅ تائید نه لري
خصوصاً کله چې د علیخان هغه غزل وګیرو چې دا شعر پکښې راغلی نو
دا قرینه نوره هم بعیده شي. ځکه علیخان که غوښتلای چې د خپل
ادبي او عقیدوي پیر او مرشد د مړینې تاریخ ثبت کړي نو ولې بې
په پیښه صراحت نه کاوه؟ او که خصوصاً په شعر کښې د داسې یوه لوی

شخصیت رحلت ته اشارت وی نور غزل یوه نه یوه بیت ( شعر )
خوبه حزنیه مطالب اوبسه ررلوده ، او بنکلې به پکښې تویې شوې
وې اوذره ژورغم به پکښې ښکاره شوی وي ، سره له دې چې
غزل ټول عشقیه ، طربیه او دیار دعا دي جور او جفا په باب دی
لکه دا بیتونه:

پیښ چې قبل وفال شي سناپه حسن دلپذیر کښې
بریښي مې شي دلبره آګاه هو د ملا په تیر کښې

خلقو خوبه وې چې پټ په فعل کښې ضمیر وي
ما فعل جفا ولید څرګند سنتا په ضمیر کښې

او نور.......

په دې توګه هم دا بجدي حل دفارمولا په اساس او هم د
معقولې یا منقولې قرینې نه در لود لوله امله دا تأویل بې اساسه
او له موضوع څخه بیخي لیرې دی او د ۱۱۸۰ هـ ق کال یادول د دی غزل
دویلو نیټه نه ده اوبس۔

۳۔ محترم فلندر صاحب د مقدمې په یوه بله برخه کښې لیکي:
" د محمدي صاحبزاده د فن اصل کمال د صنائعو ( اصل : ضائعو )
او بدائعو شاعري نه ده بلکه د پښتو د غزل هغه روایت څخ په دوراندې
بو تلل دي چې مرزا شروع کړی ، خوشحال بابا پوخ کړی ، رحمن بابا
مقبول کړی او عبدالحمید رنګین کړی ده " ( مقدمه ، هـ څ )

په دې برخه کښې چې مونږ په خورو ورو هڅو او د غزل په خورو ورو بېلګو سترګې پټې کړو هم اوس - اوس زموږ په لاس کښې د پښتو لومړنی دیوان دارزاني خویشګي (تر ۱۰۱۰ هـ ق پورې ژوندی) دی چې د غزلو لښتې د دفتر لرې لري نو ځکه دا خبره سمه نه ده چې ووایو: "د پښتو د غزل هغه روایت... چې مرزا (د ۱۰۴۰ هـ ق مړ) شروع کړی دی" بلکه دا شروع باید له ارزاني نه وکړو نو له محترم قلندر صاحب نه که ارزاني سهواً پاتې شوی وي او یا لکه د پټې خزانې اختلافنامې او د پیر محمد کاکړ د دیوان غوندې دارزاني دیوان هم د قلندر صاحب له نظره مشکوک وي د محققینو د قناعت وړ نشي کیدی ځکه شک کول د ده عندي نظر دی چې د مستند تحقیق په دنیا کښې علمي ارزښت او درښت نشي لرلای.

۳- د مقدمې په یوه بله برخه کښې محترم قلندر صاحب لیکي:-

"د فن په میدان کښې محمدي صاحبزاده پښتو شاعرۍ ته یوه ښکاره او د انتهائي قدر او اهمیت قابله عطیه دا ورکړې ده. چې شاید په وړومبی ځل هغه د غزل په پیکر یوه ښکلې تجربه کړې ده او هغه دا چې د پښتو د رباعۍ په مخصوص وزن کښې یې غزلونه لیکلي دي. د دې ضمن کښې دا خبره هم قابل ذکر ده چې د دیوان له ترتیبه داسې معلومیږي

چې د ا تجربه هغه دخپل ادبي ژوند په وروستۍ حصه کښې کړې ده، یعنې د دیوان د "ی" پنځه د غزلونه پس هغه مخمسونه ختم کړي او د روایت مطابق په رباعیاتو پیل کوي نو له هغې نه وړاندې بې دغه غزلې د ردیف د قید نه بغیر لیکلې او ړومبی غزل يې د "ی" د یتیمه دی" (ه، ځ)

په دے لیکنه کښې لومړی د: "وړومبی ځل" دعوی د ځیرلو ده ځکه د محمدي صاحبزاده نورومعاصرينو لکه قلندر (مشهور په اپریدي) او پیر محمد کاکړ هم د غزل په دې پیکر تجربه کړې او خصوصاً که قلندر صاحب داوینا هم په پام کښې ولرو: "داسې معلومیږي چې دا تجربه هغه دخپل ادبي ژوند په وروستۍ حصّه کښې کړې ده. نو بیا یقیناً قلندر او پیر محمد کاکړ په دې برخه کښې ترې وړاندې کیږي او دهغوی (خصوصاً قلندر) د ده تر وروستي ژوند نه ډیر وړاندې دا ابتکار کړی دی.

دوهمه د ځیرلو خبره دا ده چې قلندر صاحب وروسته لیکلې شوې غزلې د محمدي صاحبزاده د وروستي ژوند غزلې بولي خو مونږ نه چې ترا وسه معلومه د ه د دیوانونو ترتیب په زماني لحاظ نه کیږي بلکه په شکلي لحاظ کیږي د شاعر د ژوند په پنځتابه کښې یا په خپله یا بل څوک د شاعر وینا

سره راغونډ وي ، غزلې بېلې قصيدې بېلې ، څلوريزې
بېلې ، مخمسونه او نور بېل ليکي او ديوان ترې جوړ وي ،
د محسن ي صاحبزاده غزلي هم ځکه د ديوان په بېله برخه
کښې راغلې چې بېل جوړښت او سکښت لري او درديف له
پلوه چې کومه بې ترتيبي په دې يادو شو غزلو کښې
شته هماغه بې ترتيبي په ورپسې راغليو رباعياتو کښې
هم شته نو ځکه داسې حکم کول چې دا په دده دژوند
دوروستي برخې وينا وي سم نه برېښي او له معمول خلاف
حکم دی د په دې برخه کښې دارزانی د ديوان ترتيب مستثنی دی
ځکه دا ديوان په عين حال هم شکلي ترتيب لري او هم زماني"
ع- په سريزه کښې چې د ديوان د نسخې معرفي کوي ډېره
نيمګړې ده ، د نسخې پاڼې ، د خط ډول ، مسطر ، کاغذ ، قطع او
نور مشخصات نه ليکي او هم که ئې انتساب نه سړې پوه نه
شي چې دا نسخه ئې "ريورټي لوينتال" سره وه سړې نه
دا يته نه لګي چې نسخه چېرې وه ؟ د قلندر صاحب لاس څنګه
ورغله ؟ او اوس چېرې ده ؟ که د قلندر صاحب غوندې شکاک
سړی د داسې کومکي نسخې له متن سره صحاح شي نو يقيناً
چې په وجود به يې شک وکړي خو موږ دداسې شک ځای
نه وينو او د دې نسخې چاپېدل يو لوی کام ، اقدام او ابتکار ګڼو!

## یادګېرنه:

د محمدي صاحبزاده د دېوان له سربېزې سره په ارتباط دلته دا هم د یادولو ده چې په دې سربېزه کې د محمدي صاحبزاده دیوه بل مهم پښتنو اثر یادونه نشته ، کېدی شي چې محترم قلندر صاحب به تر پې خبر نه ؤ څو زه یې د موضوع د بشپړتیا له پاره دلته د لوستونکو له پاره د دې لوستونکو ته وړاندې کوم ورپېژنم.

په ۱۹۷۶ع کال کې زه "بتو" ته ولاړم او هلته مې د پښتنو له نامتو شاعر او خطاط ارواښاد طاهر کلاچوي سره ولیدل د دوی خوازه شعرونه مې واورېدل او د دوی د کتابتون مخطوطې مې وکتلې په مخطوطو کې د محمدي صاحبزاده بیو پښتنو اثر هم ؤ چې نوم یې "مستغاث" دی دا اثر په ۱۲۰۶ ه ق کال تالیف شوی ،کاتب یې اخوند کریم داد دی چې د محمد زمان او خان زمان له پاره یې په ۱۳۳۷ ه ق کال خطاطي کړی، د نسخې کچه یې ۲۱X۲۶ سانتي متره ده، هر مخ یې ۱۳ کرښې لري ، ټول مخونه یې (۱۱۰) دی چې د کاتب په خپل قلم نومره یې وهل شوي ده ، د کتاب موضوع د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نعت او ستاینه او د دوی په وړاندې یادونې دی او د شعر بڼه یې ترجیع بند دی .

نو غرني سريزي وروسته بې لومړى بند دا سې

پېلېږي!

حمد ثناده خداى لره چې رب العلمين دى

هم رحمن دکل عالم رحيم په مؤمنين دى

لاشريک په ذات صفات مالک ديوم الدين دى

لښته ضد او ندمو برفوق زمين دى

بيا صلوة سلام په پاک رسول چې تل امين دى

هم سيد سند رسول خاتم النبيين دى

هم په آل، اصحاب يې چې هر يو خادم دين دى

زه د پاک حضرت مداح شفيع دمذنبين دى

کرم په پښتو دا مستغاث کلام متين دى

هر چې وايم پاک حضرت حبيب الواصلين دى

لاس زمې) په لمن د حضرت اليشى په يقين دى

يا د په "محمدي" د مادح نوم په توريه سين دى

ژاړم فرياد دا کړم په دربار د پاک الله

تل صلوة سلام وايم په ثنا رسول الله

او د پاى بند ومنه يې دا دى:

ګرانه شوه استوګنه اوس زما په ځمکنو کې

زړه مې هسې بند دى لکه څوک په زولنو کې

کم ویم اخلاص دپښور په پښتنو کې !
گرچې برکت ، محبت ؤ په اولسو کې
نشته اوس هغه روزگار خوږ لفظ په وروستنو کې
لید د وفا حرف نشي د هیچا په سینو کې
یاحضرت ! اوس آ ءان نشته زمانه په دا کینو کې
لاس زمالمن سناچې ته یې راغب الله
زارهم فریاد داکړم په درگاه د پاک الله
تل صلوة سلام وایم په تا رسول الله
نشته نیک عمل مې سر د سره کرم بدي
سنه له ما ونه شه کل کارونه مې ردي
ته شافي په محشر پیاله را د ښخو دي
غواړم له تا فضل وکرم لطف سرمدي
زه د زمانې له لاس راغلی یم دردي
میاشت د محرم ده ښیبږم کال تیرصدي
وساتې عزت اوس د عاجز " محمد " ي
تل دربک صلوة سلام په تا دا یي الله
زارهم فریاد داکړم په درگاه د پاک الله
تل صلوة سلام وایم په تا رسول الله

د طاهر کلاچوی تر وفات وروسته زما کران دوست او د پښتو نامتو محقق ښاغلی همیش خلیل راته وویل چې د النسخه اروانباد کلاچوی صاحب ترمړینې وړاندې دوی ته بخښلې او اوس د همیش خلیل صاحب په کتابتون کې ساتله کیږي.

★ ★ ★ ★ ★

# دوهم

## ددیوان ترتیب او تکمیل

تر مخه مې چې ورته پېژندو ددیوان متن ته رسیږو :

د دیوان دمتن ترتیب او ترديف دقلمي نسخې مطابق

شوی او محترم قلندر صاحب هماغه پخوانی ترتیب امانت ساتلی

خو تر څنګ یې دمصرعو یو داسې لاربښود فهرست هم ورکړی

چې دنوې املاء او ترديف له مخې جوړ شوی دی . یعنی د

کتاب ترتیب داسې دی چې هم زوړ امانت ساتي او هم

دمعاصرې دیوان ترتیبونې مراعات کوي چې د لوستونکي

له پاره په زړه پورې دی او په یوه وار دواړه ترتیبه ورکړل

شوي دي .

دې تر څنګ ددیوان دمغو برخو دتکمیل کار هم

دی چې په نسخه کې یې کلمې یا جملې ضایع شوې دا کار

هم یو په زړه پورې او په عین حال کې سترې کوونکی

کار دی . د نشو ځایونو ډکولو لو یه ګټه دا ده چې

لوستونکی دشعرلوستلو په وخت کې کمی نه محسوسوي

سره له دې چې دا تکمیل حدسي او کله ، کله له اصل نه

ډیرډیرې هم وي.

په دې برخه کې قلندر صاحب ډېر زړه چاودون کړی او ډېر تش ځایونه یې ډک کړي چې ډېر یې موزون مطلوب او حتی داسې دی چې که کله د دیوان بله نسخه تر لاسه شي نو یقیناً همداسې به وي لکه قلندر صاحب چې ډک کړي دي خو ځینې داسې ډکونې هم پکې شته چې په لومړی نظر غلطي او له اصل نه ډیرې لرې ښکاري چې د نمونې په ډول یې یوازې یو څو ډکونې را اخلم:

د دیوان یو بیت (شعر) دی:

( ... ... ) دخوږ و فرق هله معلوم شه

چې له خولې نه شوه دعا ښکنځل پیدا

قلندر صاحب د بیت تش ځای داسې ډک کړی:

( د ترسکون ) دخوږ و فرق هله معلوم شه

چې له خولې نه شوه دعا ښکنځل پیدا

خو دا ډکونه په لومړي نظر هم سمه نه برېښي او باید داسې ډکه شي:

( دترخو ) دخوږو فرق هله معلوم شه

چې له خولې نه شوه دعا ښکنځل پیدا

د "ترخو" کلمه که له یوې خوا د "خوږو" له کلمې نه استنباطېږي له بلې خوا د بلې مسرې (مصرع) لف ونشر غیر مرتب "دعا او شنګخل" هم دا تهکي تبینکوي ځکه دُعا خوږه او شنګخل ترخه وي، او ترسکون له دې کبله نه یکې ځائیږي چې شنګخل ترسکون نه وی البته تهوکې حتی ملنډې ترسکون بلای شي. او هم د خوږو او ترخو ترون ورده په یوه بل شعر کې هم شوی دی:

په ترخو خوږه د مینې دی لرلي

دی بازار کې شنه دي زهر و شکر کړې وړه

په دیوان کې یو غزل دی چې: زَوُنه، مَوُنه، حَوُنه، دَوُنه، صَوُنه او نور یکې قافیه شوی، په دې غزل کې دیو شعر د وروستنې مسرې د قافیې برخه کنډ وه شوې او بنا غلی قلندر صاحب په قوسونو کې داسې ډکه کړې ده:

بیا دکوم نیک بخت د مرګ لښنه دې را ولږه

چې سرو و بینو و دنګل (سنا اننګوُ) مته

چې دا ډکونه په لومړي نظر ناسمه ده ځکه چې د غزل عمومي قافیه نه ساتي البته که په داسې تهکو ډکه شوې وای:

چې سرو و بینو و دنګل (د ستا وَرُوُ) مته

یا:

چې سرو و بینو و دنګل (د سرو لَوُ) مته

که له اصل نه لیري وی هم دغزل دعمومي قافيې مراعات
به يکې شوی وُ او په لومړي نظر به غلطه نه ښکارېده.

په همدې ترتیب ځيني نورې تشې هم داسې ډکې شوې
چې په لومړي نظر هم سمې نه برېښي.

* * * * *

# دریم

## د دیوان لیک دود

د محمدي صاحبزاده د دیوان لیک دود د پر جالب دی چه د لیک دود د عمومي دود له مخې تایید ي او تردید ي دواړه ارزښت لري.

۱- د "ي کاته" په برخه کې تر ډیره ځایه هغه لاره پکې نیول شوې چې په افغانستان کې د علمي څېړنو، مستند و پښتو ټولنو او عمومي پریکړو له مخې دود شوې ده او دا د پښتو لیک دود د وحدت په لاره کې یو مهم او د قدر وړ کام دی چې محترم قلندر صاحب پوره نه کړی دی:

د مجهولي یا سپکې "ې" بشپړ مراعات پکې شوی لکه د "تېر، هېر، ننواتې او دا ډول نور و کلمو کې. ملینه یا نرمه "ی" د لري پښتونخوا د عمومي دود غوندې او زده "ے" لیکله شوی لکه په "غورځولے" دے" او دا سې نورو کلمو کې. ثقیله تانیثي "ۍ" "ئ" په دواړو معمولو ډولونو د اسم او فعل له پاره لیکل او د افغانستان د عام لیک دود لاره پکې تعقیبوي، معروفه يې چې په افغانستان کې په ځنګ په ټکو دي) لیکله کېږي

په دې دیوان کې دصوبه سرحد دعمومي لیک دود غوندې بې ننګو رې) لیکله شوې ده. او په دې ترتیب ځینې یې کانې یې د برې او ځینې دلرې پښتونخوا په لیک دود برابرې او د لیک دود دسره ببلوالي په وله یې ماته کړې ده.

۲- "چې" چې دلته "چه" او په افغانستان او بلوچستان کې عموماً "چې" لیکله کیږي په دې دیوان کې هم "چې" لیکله شوې او د لیک دود د وحدت په لوري لیو لوخ کام دی.

۳- "ن" چې یوغږ دی او د یوه حرف په بڼه باید ولیکل شي، د همدې ژبني علمي اصل له مخې په دې دیوان کې د "ن" په بڼه لیکل شوی او د "نړ" غلط او له علمي اصولو خلاف روایت یې پکې وران کړی دی.

۴- "هڅه" ه "چې ترمخ توری یې زور کی لري او دی یې دصوبه سرحد دعام لیک دود په اعتبار مهموزه (ۀ) لوبي په مهند ډول "هړ" لیکلې لکه په "زړه ، ده " او داسې نورو کلمو کې، دا یو نوی کام دی او څرنګه چې دکلمې په پای کې دا ډول "ه" په پښتو لیک دود کې نوې لیکنه ده بنده نه ددیوان لوستل نکنی کړي اد لکه په سندر سنګه او چهجو سنګه کې چې د دې "ه" اظهار کیږي سرې بې اختیاره د "زړه" کلمه هم دهې په اظهار لولي چې عجیبه کلمه او لوست

نرې جوړشي او رښتيا سړی ويلی شي چې دا يو نامطلوب بدعت دی. دا ډول "ډ" يو وخت اروا ښاد عبدالصمد خان اڅکزي هم په خپل جوړ کړی ليک دود کې راوړې وه خو عامه او مقبوله نه شوه.

۵- د واوونو په برخه کې ښاغلی قلندر صاحب بې قانونه روان دی، په ځينی کلمو کې مجد و له واو غورځوي خو په ځينې کلمو کې بيا هم دا واو ساتي چې په دې ترجيح بلا مرجح پوه نه شوم. راځئ په دې برخه کې دا بيلنو نه سره لولو:

دنمر سترګه په آسمان کښې ورته يريږي
يار د خيال جامې اغستی زر زرې بيا
په ماښې لګی د يار د خلې خبرې
که په شيخ وملا ده دا وينا پوچه
د ښايسته وُ غوږ تصوير غندې څه ناوري
خوار مبين ورته څه کاندې غوغا پوچه

دهغه اشنا خبر ښنم له باده
او د لرې ملک حال غښتت شي له سيا احده

دلاله په دود ګرېوان مې ځکه سوري
غنچ دغم په خنړ وخار دے زما روح

د یاران په وربده ګلوته خاندي
زاړم یار مې ګنډي وګوري په داغ

غرځوے یار نظر ګټني له      مخه
خپل پردے کا همیش ځکه په مارخه

د دنیا مال ورکول مینه کښې خوشي
چې مین نېر ترخپل سر نه وي هم هیڅ

تا به هم که خدای کاژر په نارو ګډ کا
چې له ظلمه دې اوس ژاړي ګنډه، رنړه

تر پېښتو ګټو سنا څار هم له قلم شم
چې وما وکښوې ته صفا کا غذ

څو ګلهٔ بیا هم داسې معد وله واو په کلمو کې لیکي او

غورځوي بېې نـه لګه :

دګلاب پـه ګل پرتـه دسحر پرخـه
کـه لـه تا وه دبنا ئست ستاری خوبې مخ

دځلي خواست مې لـه یارکړی دی حیران یم
غورځوی مې پـه بیګا پـه سبا باندې

چې خلاص نـه شوم دغمولنوله غوبمنړه
بېلتون کړه دساوړده قصه مې لـنـړه

دسروګلو دغنچې بوی پـه دا باغ کبنې
مین یار کـه راسره دے خوا (دېخوا) کـړه

دسحر پـه وږمه نـه خوځي ګلـونـه
لـه خوبنـه دا پـه راتللو دیـدار کـړه

پـه ځینې کلموکې سیک یا مجهول واو ونـه هم غورځوی خو همدا سې واو ونـه بیا پـه ډیروکلموکې پریږدي چې دی هم دديوان پـه لیک دود کې ډیره ګړ ودړی را مېنځ تـه کړې ده. دمثال پـه تـوګـه پـه "اور" او "اوړه" کې

واو شتنه خوله" او یه" نه یې غورځوي او" ابهـ" یې لیکي لکه:

په تاوده تنور" او ږهـ" پورې ږووږی شي
کاردمیني ښکاره واړه په نت کېښي

چې په نښ کاته" ابهـ" مې یه" او" نوي کا
که وفا لري دا یارخدایٔ دې راسوئ کا

د" پوښتني" واو غورځوی:
نه د ناز په خوب وو ده پښتنه لنهکړې
او زما په مخ ځي او ښې لارې لارې

او داسې نور.
په ځینې کلمو کښې معروف یا دروند واو هم غورځوی لکه:
زلفې دیاریې ز مقصود غنچه په نوک پرانځې
چې لکه بز منځ لاس په دعا کاتوول سنبل د سحر

دچاوار زما په شان مه شه غلط
په غنچو دغم هجران مه شه غلط

او په همدې ترتیب ځینې نور داسې لیک
دودې ارخونه لري چې بحث پرې کیدای شي.

اوس موچې د محمدی صاحبزاده د دیوان په
سریزه، ترتیب او لیک دود انتقادی بحث سرته ورساوه
په پای کې یو ځل بیا د دې لوی ادبي خزانې په خپرولو
سره ښاغلی قلندر مومند ته مبارکي وایو او د پښتو
ادب مینه وال یې لوستنې ته رابولو.

"پای"

امان

د امان کتاب له خپرونو څخه

پېښور